## د تړون د ورکولو د پرېکړې خبرتیا

**موضوع:** د معلوماتي ټکنالوژۍ آمریت لپاره د لپټاپ او ډسکټاپ کمپیوټرونو چمتو او تدارک کولو پروژې تړون د سایټ ماسټر انټر نشنل ګروپ شرکت ته د ورکولو د پرېکړې خبرتیا.

د تدارکاتو قانون د دري څلوېښتمې مادې د دویمې فقرې له مخې، په دې وسیله ټولو ته خبر ورکول کېږي چې د افغانستان بانک په پام کې لري، څو د معلوماتي ټکنالوژۍ آمریت لپاره د لپټاپ او ډسکټاپ کمپیوټرونو چمتو او تدارک کولو پروژې تړون د سایټ ماسټر انټر نشنل ګروپ شرکت ته ورکړي،چې دا شرکت د D-30062 شمېرې جواز لرونکې او اصلي استوګنه يې د کابل ښار، څلورمې ناحیې، د قلع فتح الله پنځم سړک کې دی، د تړون ټولیزه بیه – 4,640,460/ څلور میلیونه شپږ سوه څلوېښت زره څلور سوه او شپېته افغانۍ ده.

هر هغه حقیقي او حکمي اشخاص چې په دې اړه کومه نیوکه ولري، کولای شي د تدارکاتو قانون د پنځوسمې مادې له حکمونو سره سم، خپله نیوکه د اعلان د خپرېدو له نېټې څخه تر **پنځو (۵) تقویمي ورځو** پورې، په لیکلې بڼه، د دلایلو او مستنداتو په ملتیا، د افغانستان بانک د تدارکاتو لوی آمریت ته، چې د کابل په **ابن سینا واټ** کې موقعیت لري، وسپاري.

دا خبرتیا د تړون د عقد کولو په معنا نه ده، او تر هغه چې پورته یاده شوې موده پای ته ونه رسېږي او ورپسې ټول قانوني مراحل بشپړ نه شي، تړون به نه عقد کېږي.